# معلوماتي پاڼه
# د NSW د غلامۍ ضد کمیشنر

## د NSW د غلامۍ ضد کمیشنر څوک دي؟

د نیو ساوت ویلز د غلامۍ ضد کمیشنر ډاکټر جیمز کاکاین دی. د ډاکټر کاکاین پنځه کلنه دوره د 1 اګست 2022 د نیټې څخه پیل شوې.

د غلامۍ ضد د کمیشنر رول د *عصري غلامۍ د قانون 2018* (NSW) پر بنسټ رامینځته شوی. دا قانون کمشنر ته دا دندې ورکوي:

- د عصري غلامۍ سره د مبارزې د اجرأتو غوښتل او هڅول
- د عصري غلامۍ د قربانیانو پیژندل، او د هغوی لپاره د مرستې او ملاتړ چمتو کول
- د عصري غلامۍ سره د مبارزې لپاره د حکومتي قوانینو او پالیسیو د مؤثریت څخه ډاډینه
- د NSW د عامه تدارکاتو د هڅو ملاتړ او د تدارکاتي لړۍ څخه نظارت کول ترڅو د عصري غلامۍ محصولات لرې کړل شي
- د تګلارو د لارښودونو صادرول او په تدارکاتي لړۍ کې د عصري غلامۍ خطرونو ته د غبرګون په هڅو پورې اړوند د عامه راجستر ساتل
- د عصري غلامۍ په اړه د ټولنې د پوهاوي لوړول.

Office of the
NSW Anti-slavery
Commissioner

Working together
for real freedom

NSW Anti-slavery Commissioner's
Strategic Plan 2023–2026

## عصري غلامي څه ده؟

عصري غلامي هغه وخت رامینځته کیږي چې کله یو سړی د بل چا سره داسې چلند کوي لکه څنګه چې دوی یې ملکیت ولري - د دوی آزادي محدودوي. عصري غلامي یوه داسې اصطلاح ده چې د مختلفو قانوني جرمونو لړۍ تر پوښښ لاندې نیسي. پدې کې شامل دي:

- غلامي
- نوکري/خدمت کول
- جنسي غلامي
- اجباري دنده
- اجباري ودونه
- د پور غلامي
- د افرادو قاچاق
- د کار یا خدماتو لپاره په درغلۍ‌ګمارنه
- د غړو او نسجونو قاچاق
- د ماشومانو سره آنلاین ناوړه جنسي کړنه

## آیا پهNSW کې عصري غلامۍ شتون لري؟

هو. په ټوله نړۍ کې شاوخوا 50 ملیونه خلک په عصري غلامۍ کې ژوند کوي. په آسټرالیا کې د اټکل له مخې 41,000 خلک په عصري غلامۍ، او د اټکل له مخې 16,400 په نیو ساوت ویلز کې ژوند کوي.

## په NSW کې د عصري غلامۍ ځینې مثالونه څه دي؟

د غلامۍ د ضد کمیشنر دفتر په NSW کې د ډېرې مختلف ډوله عصري غلامۍ معتبر راپورونه ترلاسه کړي، چې پکې شامل دي:

- کارکوونکي په سیمه ایز NSW کې په فارمونو کې په جبري توګه په کار کې بند پاتې دي
- کارکوونکي په ښاري کورنیو کې په کورونو کې غلامۍ ته اړ ایستل شوي.
- ښځې او ماشومان، په مخامخ ډول او د ټولنیزو رسنیو د پلټ فارمونو له لارې د ناوړه جنسي کړنو ته تیار شوي او مجبور شوي دي.
- د تنظیف کارکوونکي او امنیتي ساتونکي چې په دفتري بلاکونو کې کار کوي، د پور په بند کې ایثار شوي دي.
- ځوانان، ښځې او نجونې دې ته اړ ایستل شوي چې دلته یا بهر واده وکړي.
- هغه خلک چې د معیوبیت سره ژوند کوي چې په جلا کاري ځایونو یا اداري پاملرنه کې ناوړه ګټه ورځخه پورته کیږي.
- د استرالیا په اصلي خلکو او په ماشومانو جبري دنده ترسره کول.

# معلوماتي پاڼه
# د NSW د غلامۍ ضد کمیشنر

## د غلامۍ ضد کمیشنر په NSW کې د عصري غلامۍ پای ته د رسولو لپاره څه کوي؟

د غلامۍ ضد کمیشنر:

**د مخنیوي د ظرفیت رامینځته کول** - د NSW دولتي او غیر دولتي سازمانونو سره کار کول ترڅو د دوی سره مرسته وکړي ترڅو هغه خلک وپیژني چې عصري غلامۍ څخه زیان منونکي دي او د قرباني کیدلو مخه یې ونیسي. پدې کې د لومړۍ لیکې کارکوونکیو تجهیز کول او د اغیزمن ملاتړ او راجع کولو لارو رامینځته کول شامل دي.

**د درملنې چمتو کول** - د خدماتو د چمتو کونکو سره کار کول ترڅو د هغو خلکو چې د عصري غلامۍ ژوندی تجربه پرې تیره شوې وي مؤثره درملنې ته لاسرسی ښه کړي. پدې کې اغیزمن ملاتړ ته د لاسرسي پیاوړتیا او د دهغو خلکو څخه چې ددې تجربې څخه تیر شوي وي د لارښود په توګه وده ورکول.

**د مسؤلانه سوداګریزو کړنو هڅول** - د دولتي او خصوصي شرکتونو سره کار کول ترڅو په تدارکاتي لړۍ او پانګوونه کې د عصري غلامۍ پیژندلو او حل کولو کې مخکښ اوسي. پدې کې د عامه تدارکاتو څخه د عصري غلامۍ محصولاتو لرې کول او په خصوصي سکټور کې د مسؤل سوداګریزو کړنو هڅول شامل دي.

**د بیان بدلول** - په NSW کې د عصري غلامۍ په اړه د پوهاوي لوړول په داسې طریقه چې هغه خلک چې له دې تجربو څخه تیر شوي ځواکمن کوي او د غلامۍ ضد لپاره د سوداګرۍ او پالیسۍ قضیې رامینځته کوي.

**دیوې موخې لپاره دټولنې رامینځته کول** - د *عصري غلامۍ قانون 2018* (NSW) پاییښت لرونکي او ټول شموله پلي کولو لپاره بنسټ ایښودل، د ښکیلو اړخونو سره یوځای کول ترڅو د قانون اهدافو ته کار وکړي او ډاډ ترلاسه کړي چې د عصري غلامۍ سره د مبارزې هڅې دوامداره او بریالۍ کیدی شي.



## آیا تاسو، یا یوڅوک چې تاسو یې پیژنئ، په خطر کې دي؟

که تاسو یا یوڅوک چې تاسو یې پیژنئ، یا د انساني قاچاق یا غلامۍ په خطر کې یاست، تاسو کولی شئ اړیکه ونیسئ:

- د NSW د غلامۍ ضد کمیشنر دفتر antislavery@justice.nsw.gov.au ته. موږ به تاسو ته د خوندیتوب لپاره او ملاتړ خدماتو ته لارښوونه وکړو چې تاسو ورته اړتیا لرئ، لکه د استوګنې، قانوني او مهاجرت مشوره، مشوره ورکول او مالي ملاتړ. د غلامۍ ضد کمیشنر اړ نه دی چې د هغه سره د شریک شوي راپور مالومات د بل چا سره شریک کړي، پرته لدې چې ښه دلایل او مناسب دلیل شتون ولري چې یو ماشوم یا یو ځوان د پام وړ زیان له خطر سره مخ وي. یا
- د استرالیا فدرالي پولیس (AFP) په 131 237 (131AFP) یا د مرستې لپاره د AFP ویب پاڼې www.afp.gov.au ته مراجعه وکړئ.

## آیا تاسو ژباړونکي ته اړتیا لرئ؟

په 131 450 شمیره د ژباړې او ژباړنې وړیا، محرم خدمت شتون لري. د TIS یو ژباړونکی کولی شي تاسو سره د نورو خدماتو سره په اړیکه ټینګولو کې مرسته وکړي، مګر TIS مشوره نه ورکوي. ټول تلیفونونه وړیا او محرم دي.

## د NSW د غلامۍ ضد کمیشنر دفتر سره اړیکه ونیسئ

**زموږ ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ**

**Website:** dcjnsw.info/antislaverycommissioner

**Facebook:** @Office of the NSW Anti-slavery Commissioner

**LinkedIn:** @Office of the NSW Anti-slavery Commissioner